# ځوانه !

باطل ته تل باطل وایه،حقپال اوسیږه ځوانه
د حق په لوردعوت ته،توربلال اوسیږه ځوانه

د ننګ اوپت په کارکی د خوشال وصیت هیرنکړې
په توره اوقلم دواړوسمبال اوسیږه ځوانه

که ځانته درنښت غواړې د درنوپه لاره درومه
درانه ملګري پاله اودروند سیال اوسیږه ځوانه

په تورتوپک نورنه شي په قلم جنګونه زده کړه
قلم د ځان وسله کړه،وسله وال اوسیږه ځوانه

توپک د مرګ په لاره بوتلو،دغه لاره پریږده
قلم اوکتاب دواړوته لیوال اوسیږه ځوانه

د کرکې اونفرت نه دې ځان ساته،هوښیاراوسه
د مینی په ترویج کی تل فعال اوسیږه ځوانه

وطن درنه زلمیه په میړانه ساتل غواړي

د هردښمن په وړاندې لکه ډال اوسیږه ځوانه

د جنګ او ورورووژنې په ضد پاڅه قیام وکړه

منزل ته دې په تګ کی لوړمورال اوسیږه ځوانه

الحاج الهام الدین قیام

29/06/2015